Ministry of Urban Development and Land

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت
وزارت شهر سازی و اراضی



# انکشاف شهر

فصلنامه شماره ۳۸
تابستان ۱۳۹۸

ارگان نشراتی
وزارت شهرسازی و اراضی

# فهرست مطالب

سخن نخست........................................................................................(۱)
رویداد های مهم .....................................................................................(۲)
د دولت په مرسته خصوصي پانګونه د اقتصادي ښېرازۍ زېرى ورکوي.................................(۱۲)
گام‌های استوار و کارهای بنیادی در جهت تامین منابع آبی پایتخت.....................................(۱٦)
د ملي بیرغ تر ټولو ستر پارک د جوړېدو په حال کې..................................................(۱۹)
د ټرانسپورټي زېربناوو جوړول، د کابل ښاروالۍ لومړیتوب............................................(۲۱)
اصول و قواعد کاربری زمین شهری...................................................................(۲۳)
د هوا ککړتیا د راکمولو لپاره بل ځېرکی پرانیستل شو.................................................(۲۵)
پلان‌های تفصیلی شهری و شرایط طرح و ترتیب آن‌ها...................................................(۲۷)
ضرورت تاسیس مراکز علمی و تحقیقاتی شهرسازی و اراضی در افغانستان.............................(۳۳)
نقش مردم در بهسازی ساحات غیررسمی شهری.......................................................(۳٦)
قلعه اختیارالدین؛ د لرغوني هرات تاریخي ارګ........................................................(۳۸)
تحلیل اجتماعی و اقتصادی پروژه‌های تنظیم مجدد زمین در شهر کابل..................................(۴۰)

**صاحب امتیاز:** وزارت شهرسازی و اراضی
**مدیر مسؤل:** حمید اسدی
**معاون مدیر مسؤل:** افق روشن
**تصحیح کننده گان:** حشمت ناصری، مرضیه رضایی، محمد یوسف روستایی، سید اسحاق سادات
**هیئت تحریر:** ضمیر ساپی، احمد ضیا انتظار، خالده نظامی، حامیه نادری، عبدالله فکور، نوید نبی زاده، افق روشن و حمید اسدی
**عکاس:** محمد نعیم عمر و امان الله صداقت
**دیزاینر:** محمد نعیم عمر
**چاپ:** مطبعه آزادی

Ministry of Urban Development and Land
د ښار جوړولو او ځمکو وزارت
وزارت شهر سازی و اراضی

**ایمیل:** media@mudl.gov.af
**ویب سایت:** www.mudl.gov.af
**شماره تماس:** ۱۰۱۲

ټولنیز او اقتصادي ودې او چاپیریال ساتنې ته ژمن!
متعهد به رشد اجتماعی، اقتصادی و حفاظت از محیط زیست!
Committed to Social & Economic Growth and Environmental Protection!



# سخن نخست

## توسعهٔ شهری در صدر اولویت‌های وزارت شهرسازی و اراضی

وزارت شهرسازی و اراضی به عنوان یک نهاد فعال و متعهد به ایجاد شهرهای دارای تسهیلات شهری بر اساس اصول انکشاف متوازن و پایدار در چهارچوب دولت جمهوری اسلامی افغانستان مسوولیت دارد که پلان‌های وسیعی را برای بهبود شهرهای کشور ترتیب دهد و بر مبنای همین اصل، تا اکنون در بخش سیاست گذاری شهری دستآوردهای قابل ملاحظهٔ داشته است.

ترتیب ده‌ها پلان استراتیژیک، تفصیلی و منطقوی برای ولسوالی‌ها و شهرهای کشور به هدف ترسیم دورنمای انکشاف شهری تا پنجاه سال آینده و چهارچوب طراحی شهر کابل را می‌توان جز این دستآوردها خواند. علاوه برآن، هم اکنون کار بر ترتیب چهارچوب طراحی ۹ شهر دیگر کشور نیز جریان دارد.

پلان گذاری شهری مهم‌ترین عنصر در انکشاف یک شهر است. مسایلی که در تهیه و ترتیب پلان‌ها در نظر گرفته می‌شود، توسعهٔ موجوده، توسعهٔ پیشنهادی، زیربناهای خدماتی، چهارچوب طراحی جاده‌ها و اصول توسعه پایدار می‌باشد.

بنا براین وزارت شهرسازی و اراضی با مطالعات دقیق از زمین، جمعیت، اقتصاد و فرهنگ شهرهای افغانستان، وضعیت پلانی شهرها را واضح ساخته و سعی ورزیده که با توجه به اهمیت فوق‌العاده در فرایند توسعهٔ شهری، فعالیت‌های مطابق به شرایط را انجام دهد.

با نظرداشت این موضوعات، پروسهٔ رشد توسعهٔ شهری در سراسر کشور همانند تمام کشورهای روبه انکشاف جهان به سرعت جریان دارد و این وزارت با استفاده از ظرفیت و امکانات خویش، سعی و تلاش نموده تا استراتیژی توسعهٔ شهری را با تعهد تمام برای ایجاد تغییر در نظام شهری کشور ترتیب و تطبیق نماید.

از این جهت، اولویت اساسی وزارت شهرسازی و اراضی بر پلان سازی دقیق شهری، هدفمند سازی توسعهٔ شهری، اشتغالزایی در شهرها، افزایش درآمد ملی، رفاه اجتماعی، مدرن سازی شهری، جلوگیری از رشد ساحات غیر پلانی، ثبت ساحات غیررسمی شهری و بهسازی این ساحات، ترتیب پلان‌های انکشاف منطقوی، پلان‌های استراتیژیک، پلان‌های تفصیلی، سروی و تهیهٔ پلان شهرک‌های معلمین و بازسازی و مرمت آبدات تاریخی فرهنگی در تمام شهرهای افغانستان می‌باشد.

ماستر پلان یک شهر که دورنمای انکشاف شهر را تعیین می‌نماید، از اهمیت اساسی در توسعهٔ شهرها برخوردار است. از این جهت، چهارچوب طراحی شهر کابل در شش جلد تکمیل و تحت تطبیق بوده، هکذا کار روی ترتیب چهارچوب طراحی ۹ شهر دیگر آغاز گردیده و قرار است برای تمامی شهرهای کشور چهارچوب پلان گذاری شهری را تدوین و زمینهٔ مبدل شدن شهرها به ماشین رشد اقتصادی فراهم گردد.

وزارت شهر سازی و اراضی از طریق دستیابی به اهداف استراتیژی انکشاف شهری به دنبال تحول و توسعهٔ مستمر می‌باشد و تلاش این وزارت بر این بوده تا با مشارکت تمام سکتورهای مرتبط و ذیدخل در مسایل مربوط به شهرها، زمینه را برای توسعه و رشد بیشتر سکتور شهری فراهم سازد.

# محترم محمد جواد پیکار: دولتي ځمکي د اوسني او راتلونکي نسل ګډه او ستره پانګه ده




د ښار جوړولو او ځمکو وزارت په نوښت د دولتي ځمکو بانک پنځه ورځنی روزنيز ورکشاپ د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزير محترم محمد جواد پيکار، د دغه وزارت معينانو، د ښار جوړولو او ځمکو وزارت مرکزي او ولايتي رئيسانو، د ياد بانک چارواکيو او په افغانستان کې د يو.ان هبيتات دفتر مشر محترم فرناندو دی‌کروز په ګډون جوړ شو.
دغه ورکشاپ د دولتي ځمکو بانک په اړه د يو مستند فلم په خپرېدو پيل شو او ورپسې د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزير خپله وينا واوروله.
محترم محمد جواد پيکار، د ښار جوړولو او ځمکو وزارت په تشکيلاتي جوړښت کې د نويو رياستونو او ادارو لکه د افغانستان د انجينيرۍ او مهندسۍ انکشاف ادارې، ښاري او ساختماني سرغړونو ته د رسېدنې ادارې، د تاريخي ابدو د مرمت او بيارغونې ادارې، د کور جوړونې ادارې، د خصوصي سازۍ معينيت او په زونونو کې عمومي رياستونو ته په اشارې زياته کړه چې دغه ډول اداري او نورو مثبتو بدلونونو په پايله کې د ياد وزارت ټولې چارې په ښه توګه روانې دي.
د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزير د پاليسۍ جوړونې برخه کې يادونه وکړه چې نهو ښارونو لپاره د ساساکي پر پلان کار روان دی، څو له لارې يې د دغو ښارونو د پراختيا مسير په ډاګه شي.
محترم محمد جواد پيکار په دغو ټولو برنامو او نوښتونو کې د جلالتمآب جمهور رئيس له ملاتړ څخه په مننې څرګنده کړه چې تر لاس لاندې برنامې د افغانستان لپاره د يوې ښې راتلونکي زېری ورکوي.
د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزير همدا رنګه وويل، د لومړي ځل لپاره د حکومت د مشرتابه له ژمنې او د قانون له حکم سره سم د

پاتی برخه ۳ مخ...

# رویداد های مهم




.... دولتي ځمکو غصب جرم ګڼل کېږي او په دې برخه کې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت بې‌سارې لاس‌ته راوړنې لري چې د هېواد په کچه د ۵۰۰ زره جريبه ځمکې استرداد، عدلي او قضايي ارګانونو ته پر غصب د تورنو کسانو پېژندنه او غصب شويو دولتي ځمکو ته رسېدنه د هغو ښې بېلګې دي.

محترم محمد جواد پيکار په خپلو خبرو کې د دولتي ځمکو بانک يادونه هم وکړه او ويې ويل: «د دولتي ځمکو بانک له لارې تر دې دمه ۴ اعشاريه ۴ مېليونه جريبه دولتي ځمکه سروې او ثبت شوې ده. د دولتي ځمکو د دغې لويې برخې سروې، د افغانستان په ځمکوالی تاريخ کې يو ستر انقلاب بلل کېږي. د بهرنيو ادارو له هر اړخيزې مرستې څخه په منني دا بايد ووايم چې موږ د دولتي ځمکو بانک په دويم پړاو کې له ثبت شويو ځمکو د ګټې اخېستلو څرنګوالي په اړه کار کوو. دولتي ځمکه د اوس او راتلونکي نسل ستره پانګه ده او موږ د دغې پانګې ساتنې ته ژمن يو.»

محترم محمد جواد پيکار، مرکزي او ولايتي رئيسانو ته د اداري چارو عصري کېدو، د فساد او غصب پر وړاندې د مبارزې، د دولتي ځمکو بانک او د غيررسمي ښاري سيمو ثبت پروګرام د چارو چټکتيا په هکله هم يو لړ لارښوونې وکړې.

د دولتي ځمکو بانک ورکشاپ په لومړۍ ورځ افغانستان کې د يو.ان هبيتات دفتر مشر محترم فرناندو دې‌کروز هم په خپله وينا کې د دولتي ځمکو بانک بې‌سارې لاس ته راوړنه کې د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزير هڅې وستايلې.

د ويلو ده چې د دولتي ځمکو بانک په پنځه ورځني ورکشاپ کې، ګډونوالو ته د دولتي ځمکو بانک عملي چارو او داسې نورو برخو په اړه روزنه ورکړل شوه.

# تفاهم‌نامۀ بین‌الوزارتی و قرارداد اجاره‌دهی زمین برای ایجاد مرکز حمایت از اطفال و افراد دارای معلولیت به امضاء رسید



در نشستی که در وزارت شهرسازی و اراضی برگزار شده بود، تفاهم‌نامه چهارجانبه برای ایجاد مرکز حمایت از اطفال و افراد دارای معلولیت در کابل از سوی محترم محمد جواد پیکار سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی، محترم سید انور سادات سرپرست وزارت کار و امور اجتماعی، محترم لعل الدین آریوبی وزیر دولت در امور شهداء و معلولین و محترمه لیل محب، رئیس موسسۀ ابتکار اطفال توانا (ECI) به امضاء رسید.

این تفاهم‌نامۀ همکاری‌ها، به تاسی از مصوبۀ شماره ۵ کابینه جمهوری اسلامی افغانستان مورخ ۱۳۹۸/۴/۸ در هشت ماده به هدف ایجاد فضای مصئون و مطمین، تامین حقوق اطفال و افراد دارای معلولیت در قسمت بود و باش، تعلیم و تربیه و مراقبت‌های صحی اطفال ترتیب و به امضاء رسیده است.

محترم محمد جواد پیکار، سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی حین امضای تفاهم‌نامه، آن را یک سند حقوقی کامل توصیف کرد. سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی اذعان داشت که در این تفاهم‌نامه، وظایف و مسئولیت‌های وزارت‌های شهرسازی و اراضی، کار و امور اجتماعی و وزارت دولت در امور شهدا و معلولین واضح شده است.

متعاقباً قرارداد اجاره‌دهی زمین دولتی برای اعمار مرکز حمایت از اطفال و افراد دارای معلولیت از سوی محترم وحیدالرحمان رحمانی، رئیس عمومی خصوصی سازی و محترمه الهه ایلی عمر، از مسئولان موسسۀ ابتکار اطفال توانا (ECI) نیز به امضاء رسید.

طبق این تفاهم‌نامه؛ وزارت شهرسازی و اراضی موازی ۷ جریب زمین واقع در ساحۀ قلعچه خُمدان مربوطات ناحیۀ هشتم شهر کابل را حسب قرارداد سی ساله جهت ایجاد مرکز حمایت از اطفال و افراد دارای معلولیت در اختیار موسسۀ ابتکار اطفال توانا (ECI) قرار می‌دهد.

موسسۀ ابتکار اطفال توانا (ECI) طبق این قرارداد، پنج میلیون دالر امریکایی را در اعمار این مرکز هزینه می‌کند.

# رئیس جمهور غنی: برنامه عمل انکشاف شهری باید به سرعت تطبیق گردد



جلسهٔ هماهنگی کمیسیون شهری تحت ریاست جلالتمآب محمد اشرف غنی رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در ارگ ریاست جمهوری تدویر یافت.

در این جلسه مسئولان وزارت‌های شهرسازی و اراضی و ترانسپورت و شاروالی کابل، گزارش پیشرفت کار پلان چهارچوب انکشاف استراتیژیک پنج شهر را ارایه کردند.

مسئولان وزارت شهرسازی و اراضی گفتند، مرحلهٔ اول کار پلان چهارچوب انکشاف استراتیژیک در شهرهای خوست، جلال آباد، هرات، کندهار و مزارشریف در جریان است و تا ماه ثور سال آینده تکمیل می‌گردد و مرحلهٔ دوم آن که شهرهای کندز، چاریکار، لشکرگاه و قلات را در بر می‌گیرد، تا پنج ماه آینده آغاز خواهد شد.

رئیس جمهور غنی پس از استماع گزارش متذکره، گفت که برنامهٔ عمل انکشاف شهری به سرعت باید تطبیق گردد و در این خصوص اقدامات عاجل نیاز است.

وی افزود که به اهمیت ترانزیتی این شهرها توجه صورت گیرد، زیرا هر کدام آن مرکز صنعت و صادرات بوده و به حفظ آثار تاریخی در این شهرها نیز باید توجه جدی شود.

در بخش دیگر جلسه در رابطه به راه‌های جلوگیری از گشت و گذار وسایط نقلیه باربری تناژ بلند که باعث تخریب پیش از وقت سرک‌ها می‌گردد، بستهٔ معلوماتی ارایه گردید و در این خصوص بحث‌های همه جانبه نیز صورت گرفت.

رئیس جمهور غنی بخاطر جلوگیری از تخریب سرک‌ها به مسئولان، پولیس وزارت امور داخله و پولیس ترافیک هدایت داد تا وسایط نقلیه باربری را که اضافه بار دارند، متوقف ساخته و با آنان در مطابقت به قانون برخورد جدی نمایند.

# جمهوررئیس غني د امنیتي او دفاعي ځواکونو د شهیدانو کورنیوته د استوګنې نومرو اسناد وویشل




د افغانستان د اسلامي جمهوریت جلالتمآب جمهور رئیس محمد اشرف غني پیروزي ښارګوټي کې د امنیتي او دفاعي ځواکونو د شهیدانو ورثې ته د استوګنې نومرو د اسنادو د وېش په مراسمو کې ګډون او وینا وکړه.

په دې مراسمو کې چې د ارګ په چهارچنار مانۍ کې ترسره شول، د هېواد لومړۍ مېرمن او یو شمېر دولتي اراکینو هم پهکې حضور درلود، لومړی د ښار جوړولو او ځمکو وزارت سرپرست جواد پیکار د پیروزي ښارګوټي په اړه ووېل، د جلالتمآب جمهور رئیس د حکم پر اساس دغه وزارت توانېدلی چې د هېواد د امنیتي او دفاعي ځواکونو ورثې ته د کابل ولایت په ده سبز سیمه کې په ۸ زره جریبه ځمکه پیروزي ښارګوټی چې ۱۱۰۷۷ د استوګنې نومرې لري، جوړ کړي.

هغه زیاته کړه، دا مهال په یاد ښارګوټي کې په څلورو فازونو کې د استوګنې نومرې وېشلو ته چمتو دي او په پنځم او شپږم فاز هم کار جریان لري.

د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزیر وړاندیز وکړ چې له مسکن صندوق جلا دې د هېواد د امنیتي او دفاعي ځواکونو د شهیدانو ورثې ته د کورونو وجهي صندوق جوړ او اړوندې اداري، ملي بودجه او کورنې او بهرنې مرسته کوونکي دې هغه تمویل کړي. هغه زیاته کړه، د امنیتي او دفاعي ځواکونو د شهیدانو وارثینو ته دې د آپارتمانونو او حویلۍ په ډول کورونه برابر او د سیما په خاطر دې د افغان کور جوړولو اداري له لوري جوړ شي.

پاتی برخه ۷ مخ ...

# رویداد های مهم




... وروسته جلالتمآب جمهور رئیس غني په خپلو خبرو کې د امنیتي او دفاعي ځواکونو د شهیدانو وارثینو ته وویل: «زه هره ورځ ستاسو غم او ژور درد احساسوم، موږ ټول ستاسو پوروړي یو او د دې ملت د هر فرد او د دولت د هر چارواکي وجداني، قانوني او اخلاقي دنده ده چې ستاسو دغه پور اداء کړي.»

د هېواد جلالتمآب جمهور رئیس څرګنده کړه، په تېر کې له ۹۰۰ زرو جریبو زیاته ځمکه غصب شوې او غاصبینو خپلو خپلوانو ته وېشلې وه. دا څنګه امکان لري چې د امنیتي او دفاعي ځواکونو د شهیدانو وارثین دې سرپناه ونه لري او د غاصبینو خپلوان دې د ځمکو مالکان وي؟»

جلالتمآب جمهور رئیس د ښارجوړولو او ځمکو وزارت د ټولو وړاندیزونو د تائید ترڅنګ وویل: د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت باید تغییر وکړي او په ملي دفاع او کورنیو چارو وزارتونو کې د امنیتي ځواکونو د شهیدانو د وارثینو مواظبت باید بنسټیز تحول وکړي.

جلالتمآب جمهور رئیس د امنیتي او دفاعي ځواکونو د شهیدانو د ملاتړ لپاره د صندوق جوړېدو ملاتړ وکړ او هغوی ته یې د کورونو جوړېدل تائید کړل. همداراز ښار جوړولو او ځمکو وزارت ته یې هم لارښوونه وکړه چې د شهیدانو وارثینو ته د ځمکو د وېش بهیر دې چټک کړي او په هغو ولایتونو کې چې د کورونو لپاره ځمکې نشته، مناسب بدیل پیدا کړي.

په دې مراسمو کې، د هېواد جلالتمآب جمهور رئیس او لومړۍ مېرمن د امنیتي او دفاعي ځواکونو د شهیدانو ۱۱۷۷ وارسینو له ډلې پر یو شمېر هغو د استوګنې نمرو اسناد ووېشل.

# به تعداد ۷۱۸۰۳۲ خانهٔ غیررسمی در هشت شهر کشور سروی و ثبت شده است



وزارت شهرسازی و اراضی از زمان آغاز برنامهٔ ثبت ساحات غیررسمی شهری در شهرهای کابل، هرات، مزار شریف، قندهار، جلال آباد، فراه، بامیان و نیلی، در مجموع به تعداد ۷۱۸۰۳۲ خانهٔ غیررسمی و غیرپلانی را سروی و ثبت نموده است.

از میان این رقم، ۴۵۶۶۳۴ خانه در شهر کابل، ۷۸۸۷۱ خانه در شهر مزار شریف، ۷۱۴۷۹ خانه در شهر هرات، ۴۴۰۵۷ خانه در شهر قندهار، ۲۳۴۷۵ خانه در شهر جلال آباد، ۱۲۰۱۴ خانه در شهر فراه، ۱۲۳۹۲ خانه در شهر بامیان، ۷۱۳۸ خانه در شهر نیلی، ۲۹۱۰ خانه در ولسوالی میربچه کوت ولایت کابل، ۲۴۵۲ خانه در ولسوالی بلخ، ۲۱۵۶ خانه در ولسوالی سپین بولدک ولایت قندهار و ۴۴۵۴ خانه هم در ولسوالی انجیل ثبت و سروی شده است.

وزارت شهرسازی و اراضی همزمان با جریان ثبت و سروی خانه‌های غیررسمی شهری در شهرهای یادشده، حدود ۲۰ هزار سند ملکیت را برای باشنده‌گان شهرهای کابل، هرات، جلال آباد، بامیان و نیلی توزیع نموده است.

وزارت شهرسازی و اراضی بر اساس تعهد جلالتمآب رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در خصوص تأمین مصئونیت ملکیت‌های مردم، مهار روند رو به افزایش غصب زمین‌های دولتی، بهبود روند مدیریت و کنترول زمینداری، رشد اقتصادی و ارایه خدمات بهتر شهری در سال ۱۳۹۶ خورشیدی؛ طرح ایجاد برنامهٔ ثبت ساحات غیررسمی شهری را به اساس مادهٔ ۱۱۲ قانون تنظیم امور زمینداری به شورای عالی اراضی، آب و محیط زیست ارایه نمود که مورد تائید شورا و منظوری جلالتمآب رئیس جمهور کشور قرار گرفت و هم اکنون کارهای عملی آن جریان دارد.

# ۲۵ جریب زمین برای دارالافتاء، مکتب الازهر و ساختمان لیلیه اختصاص داده می‌شود



محترم محمد جواد پیکار، سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی در دفتر کارش با محترم عبدالشکور مهجور، مشاور ارشد حقوقی دفتر شورای امنیت ملی دیدار کرد.

ابتداء محترم عبدالشکور مهجور، مشاور ارشد حقوقی دفتر شورای امنیت ملی گفت، حسب فرمان مقام عالی ریاست جمهوری مبنی بر ایجاد دارالافتای جمهوری اسلامی افغانستان، آماده‌گی‌ها برای آغاز کار رسمی آن آغاز شده است.

محترم مهجور، از وزارت شهرسازی و اراضی خواست تا ضمن اختصاص زمین سفید دولتی برای اعمار تعمیر مرکز دارالافتاء، کارهای دیزاین آن را نیز به پیش ببرد.

متعاقباً محترم محمد جواد پیکار، سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی افزود، زمین سفید دولتی در جوار قطعه زمین اختصاصی برای اعمار مرکز اسلامی، محل مناسب برای اعمار دارالافتاء است.

محترم محمد جواد پیکار به معینیت ساختمانی، مرکز دیزاین، پروژه طرح و ترتیب پلان‌های شهری (SDP) و برنامهٔ کمپلکس اداری دارالامان وظیفه سپرد تا بعد از سروی محل و مشاهدات عینی، ۱۵ جریب زمین را برای دارالافتاء، ۵ جریب زمین را برای مکتب الازهر و ۵ جریب زمین را نیز برای ساختمان لیلیه اختصاص دهند.

سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی همچنان به بخش‌های مربوطه هدایت داد تا پلان استفاده از زمین تپهٔ مرنجان و اطراف آن را همچنان ترتیب نمایند.

محترم محمد جواد پیکار، به دوام صحبت‌هایش به ریاست عمومی املاک دولتی نیز وظیفه سپرد که تا زمان اعمار ساختمان دارالافتاء بر تپهٔ مرنجان، ساختمانی را برای استقرار موقتی این مرکز تدارک ببیند.

گفتنیست، دارالافتای جمهوری اسلامی افغانستان حسب فرمان مقام عالی ریاست جمهوری به عنوان یگانه مرجع صدور فتواهای شرعی تاسیس گردیده است.

# په ۲۸ ولایتونو کې نږدې ۴,۵ مېلیونه جریبه دولتي ځمکه سروې شوه



د ښار جوړولو او ځمکو وزارت په ۲۸ ولایتونو کې د دولتي ځمکو بانک برنامې له لارې د زمري میاشتې تر پایه پې ټول‌ټال ۴۴۸۹۲۶۲ جریبه دولتي ځمکې او د دولت تر استفادې لاندې عامه ملکیتونه سروې او ثبت کړي دي.

له دې جملې ۳۶۳۱۷۴ جریبه په ننګرهار، ۲۲۵۸۰۵ جریبه په کابل، ۲۱۹۹۵۱ جریبه په بلخ، ۱۸۵۰۳۵ جریبه په هرات، ۱۷۴۳۴۶ جریبه په کندهار، ۲۰۵۰۱۱ جریبه په کندوز، ۲۳۰۶۵۵ جریبه په نیمروز، ۱۷۳۸۵۰ جریبه په سرپل، ۱۳۹۸۷۰ جریبه په جوزجان،۱۸۳۱۹۴ جریبه په لوګر، ۲۱۱۱۵۵ جریبه په پکتیا، ۲۰۳۶۷۳ جریبه په پکتیکا کې سروې شوې ده.

همدا راز دې وزارت ۱۵۳۴۶۰ جریبه په تخار، ۱۱۶۴۲۱ جریبه په هلمند، ۱۲۹۸۲۵ جریبه په پروان، ۱۵۱۱۲۹ جریبه په فاریاب، ۱۳۸۳۲۲ جریبه په بغلان، ۱۵۴۵۹۲ جریبه په خوست، ۱۰۳۶۹۴ جریبه په بامیان، ۲۰۰۱۹۱ جریبه په زابل، ۱۴۱۴۹۳ جریبه په غزني، ۱۵۶۷۹۷ جریبه په لغمان، ۷۷۷۲۹ جریبه په سمنګان، ۴۹۵۹۷ جریبه په کاپیسا، ۷۸۶۶۸ جریبه په میدان وردک، ۶۹۹۳۰ جریبه په دایکندي، ۱۱۲۱۷۵ جریبه په غور، ۱۳۹۴۴۷ جریبه په بادغیس او ۷۲ جریبه نوره په فراه ولایت کې سروې شوې ده.

د دولتي ځمکو بانک اړوندو چارو کې له نوې ټکنالوژۍ څخه کار اخېستل کېږي او د دې تر څنګ له یوې خوا د غصب مخنیوی کېږي او له بلې خوا راستنېدونکیو، کورنیو بې‌ځایه شویو، د هېواد شهیدو امنیتي او دفاعي ځواکو کورنیو ته د ځمکو عادلانه وېش لپاره یوه لویه لاس‌ته راوړنه ده.

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د ځمکوالې چارو په تاریخ کې د همدې بانک له لارې د لومړي ځل لپاره څه باندې ۱۸ زره جریبه دولتي ځمکه اړوندو دولتي ادارو د شاوخوا سلو پروژو تطبیق په پار انتقال هم کړې ده.

# محترم محمد جواد پیکار: از طریق فابریکهٔ تولید قطعات پیش ساخت ۱۰۰ باب مکتب طی سال ۱۳۹۸ اعمار می‌گردد



محترم محمد جواد پیکار، سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی از بخش‌های مختلف فابریکهٔ تولید قطعات پیش ساخت بازدید به عمل آورد.

سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی حین بازدید، از نقش آن در ساخت و ساز مکاتب و ساختمان‌های عامه مفید و ارزنده تلقی نمود.

محترم محمد جواد پیکار با قدردانی از تمام کارمندان این فابریکه، از آنان خواست تا با جدیت و مسئولیت پذیری وظایف محولهٔ شان را انجام دهند.

سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی ضمن تاکید بر تقویت هرچه بیشتر فابریکهٔ تولید قطعات پیش ساخت، بر فعال ساختن بخش‌های دیگر از قبیل نجاری و حجاری نیز هدایت داد و افزود که با این کار روند ساخت و ساز ساختمان‌های عامه بیشتر تسریع خواهد شد.

وزارت شهرسازی و اراضی از طریق فابریکهٔ تولید قطعات پیش ساخت، کار اعمار ۲۳۵ ساختمان عامه شامل ۱۰۰ باب را آغاز کرده و طی سال ۱۳۹۸ تکمیل و به بهره برداری می‌سپارد.

# د دولت په مرسته خصوصي پانګونه د اقتصادي ښېرازۍ زېرې وركوي

حميد اسدي



د پرمختلليو هېوادونو د پرمختګ يو راز د خصوصي سکټور پانګونې په جذب او په عامه او خصوصي پانګې اچونې کې نغښتې ده. طبيعي ده چې ځمکې او ملکيتونه په تېره بيا دولتي هغه د پانګونې په جذب کې خورا مهمه ونډه لري، په دې معنا چې ځمکه په خپله ستره پانګه ده او دغه پانګه هغه وخت ښه غوړېدای شي چې د سم مديريت له لارې پر هغې د پانګونې زمينه برابره شي.

د نړۍ ډېرى هېوادونو لکه سويلي کوريا، ترکيې، سينګاپور، ماليزيا، جيورجيا، چين، جرمني هند او داسې نورو د دولتي ځمکو او ملکيتونو د سم مديريت او د پانګې جذب له لارې ستره اقتصادي بريا ترلاسه کړې او اوس د نړۍ سترو اقتصادي هېوادونو په توګه پېژندل کيږي. افغانستان هم د درېيمې نړۍ مخ پر ودې هېواد په توګه د اقتصادي او ټولنيز پرمختګ لپاره اړ دی چې د سترې پانګې په توګه له دولتي ځمکو او ملکيتونو څخه سمه ګټه پورته کړي، ځو له يوې خوا پر بهرنيو مرستو تکيه راکمه کړي او له بلې خوا د دولتي ځمکو او ملکيتونو د مديريت پخوانى او د اوسنيو اړتياو په نظر کې نيولو سره بې‌کاره سيستم پر نوي او مدرن هغه واړوي. دې سترې موخې ته د رسېدو يوه لار دا ده چې پانګه‌والو ته پر دولتي ځمکو او ملکيتونو د پانګې اچونې زمينه برابره کړي.

وروسته له هغې چې د ښاروالیو قانون د ۷۶ مې مادې د حکم پر بنسټ د دولتي ځمکو او املاکو د مديريت مسئوليت د ښار جوړولو او ځمکو وزارت تر غاړې شو، دغه وزارت د کابل د طراحۍ چوکاټ لرليد په نظر کې نيولو او د جلالتمآب جمهور رئيس لارښوونو سره سم

یوازې په پلازمېنه کابل کې د پانګې اچونې لس سوداګریزې کښوړې چمتو کړې دي چې هر یو له ځمکو څخه د سمې استفادې له لارې د هېوادوالو په اقتصادي او ټولنیز ژوند کې مثبت بدلون راوستی شي.

**دلته د پانګې اچونې د هرې کښوړې په اړه په جلا جلا توګه معلومات درکوو:**

**۱ - په درېیم مکروریانو کې د مرمرو په نوم استوګنیزه او سوداګریزه ودانۍ**

دغه پروژه د کابل ښار هوایي ډګر ته نږدې په درېیم مکروریانو کې پر ۵،۲ جریبه سپینه دولتي ځمکه باندې په نظر کې نیول شوې ده. د ښار جوړولو او ځمکو وزارت په نوښت یاده ودانۍ په ۲۵ پوړیزه بڼه طرحه شوې ده. د دغې پروژې پنځه پوړونه د سوداګریزو بازارونو او پاتې هم د استوګنې لپاره په نظر کې نیول شوي دي.

یادې پروژې لپاره دوه ټاکنې: عامه او خصوصي ګډون (ډیزاین، تمویل، پلورل، ګټه اخیستنه، حفظ او مراقبت او انتقال) او عامه او خصوصي ګډون (د کرایې موډل) ورته وړاندیز شوي دي.

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د اټکل له مخې پر یادې پروژې به تر دېرش مېلیونه ډالرو پورې پانګونه وشي.

**۲ - په زړو مکروریانو کې د کابل برقي وسایلو لوی بازار**

د پانګونې دغه کښوړه په زړو مکروریانو کې ملي بس تصدۍ پورې اړوند پر ۱۰۹،۳۴۰ متره مربع ځمکه باندې طرحه شوې ده. دغه کښوړه په نادر پښتون څلورلارې کې د کابل ښار برقي وسایلو اوسني مارکېټ د انتقال په موخه جوړه شوې ده.

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د اټکل له مخې یاده پروژه ۹۰،۵ مېلیونه امریکایي ډالره لګښت غواړي او د عامه او خصوصي ګډون له لارې تطبیق کېدای شي.

**۳ - د کور جوړونې پارک د پانګې اچونې کښوړه**

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د افغانستان اسلامي جمهوري دولت جلالتمآب جمهور رئیس له لارښوونې سره سم، په نظر کې لري چې د کابل ښار د قصبې سیمې پر ۶۲۹ هېکټاره ځمکه کې د کور جوړونې پارک ورغوي.

یاده ځمکه خصوصي سکتور ته د پنځوسو کلونو لپاره په اجاره ورکول کېږي او د اټکل له مخې له پنځوسو څخه تر سل مېلیونه ډالرو پورې پانګونه پرې کېږي. ټاکل شوې د کور جوړونې په دغې تصدۍ کې د ساختماني موادو د تولید ستر مرکز جوړ شي.

دا لومړی ځل دی چې په هېواد کې دننه له اقتصادي اړخه پر ځان بسیاینې او له داخلي توکیو څخه د ګټې اخېستلو او بازار موندنې لپاره د مېشتځایونو د رغونې پارک جوړولو یوه داسې طرحه برابرېږي.

**۴ - د محمود طرزي تعلیمي او تحصیلي کمپلکس**

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت په نوښت د پانګې اچونې دغې کښوړې او پروژې پلي کېدو لپاره پنځمې ناحیې پورې اړوند د سیلو تر شا ۱۰۰ جریبه دولتي ځمکه ځانګړې شوې ده.

یاده اندازه دولتي ځمکه به د کابل ښار د طراحۍ چهارچوب پر بنسټ،



د پنځوسو کلونو اوږدمهاله اجارې لپاره د عامه او خصوصي ګډون موډل پر مټ د اووه تعلیمي او تحصیلي مرکزونو په واک کې ورکړل شي. پر دغې پروژې به له پنځوسو څخه تر اویا مېلیونو ډالرو پورې پانګونه وشي.

**۵ – د درمل جوړوني پارک**

ښار جوړولو او ځمکو وزارت د پانګې اچونې دغې کښورې لپاره د پلازمېنې کابل احمدشاه بابا مېنه کې پرته ۱۵۳ جریبه سپینه دولتي ځمکه په نښه کړې ده.

.

یادې پروژې لپاره د اجارې موډل وړاندیز شوی او دولت به په دې موده کې ۱۶,۷ مېلیونه امریکایي ډالره عاید ترلاسه کړي. ټاکل شوې په دې دولتي ځمکه د درمل جوړوني پارک له جوړېدو سره له پنځه‌لسو څخه تر شلو فابریکې ځای پر ځای شي.

**٦ – د موسی شفیق تعلیمي – تحصیلي کمپلکس**

کابل ښار کې د پانګې اچونې کښورو په منځ کې یو هم په قلعه زمان خان سیمه کې د موسی شفیق په نوم تعلیمي – تحصیلي کمپلکس دی.

دغه کمپلکس لپاره د سېمنټ خانې ۴۸,۴ جریبه دولتي ځمکه په نښه شوې ده. په دې کمپلکس کې به څلور خصوصي تعلیمي او تحصیلي بنسټونه ځای پر ځای کیږي او له شلو څخه تر دېرش مېلیونه ډالرو پورې پرې پانګونه کوي.
د یاد کمپلکس په طرحه کې د پوهنتونونو تدریسي ودانۍ، لیلیې، شنې سیمې، عامه کتابتون، ورزش ځایونه، جومات، روغتیایي کلینیک، کفتریا او د موټرو تم‌ځای شامل دي.

ښار جوړولو او ځمکو وزارت غواړي دغه پروژه خصوصي سکټور ته په اجارې د ځمکې ورکولو له لارې پلې کړي.

**۷ – د پنځم مکروریانو پروژه**

د ۱۳۹۱ کال د دولسمې میاشتې په څوارلسمه نېټه د وزیرانو شورا مصوبې له مخې له څلورم مکروریانو څخه تر هوایي ډګره پورې د استوګنیزو بلاکونو جوړولو طرحه تصویب او د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د دغې پروژې د سرته رسولو دنده واخېسته.

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت اوس په پلان کې لري چې دغه پروژه د خلکو، خصوصي سکټور او دولت په ګډون د ځمکې بیا تنظیم له لارې پلې کړي.

دا به یو له پرمختللیو استوګنیزو پروژو څخه وي چې د استوګنیزو بلاکونو، ورکتونونو، د هلکانو او نجونو ښوونځیو، مارکېټ، د فوټبال او کرکټ لوبغالو، ښاري سالون، کتابتون، جامع جومات، رستورانټ، شنو سیمو او داسې نورو برخو په لرلو سره ډیزاین کیږي.

**۸ – د دارالامان په نیله باغ سیمه کې د چین په مرسته د استوګنیز ښارګوټي سوداګریزه سیمه**

د کابل د دارالامان په نیله باغ سیمه کې استوګنیز ښارګوټی د چین دولت په مرسته د دولت کارکوونکیو لپاره رغول کیږي. دغې پروژې



لپاره چې په ټوله کې ۵۶ بلاکونه او ۱۴۰۰ اپارتمانونه به ولري، ۴،۵ هېکتاره ځمکه په پام کې نیول شوې چې له دې څخه ۱،۹۴ هېکتاره سوداګریزه سیمه جوړوي.

د یادې پروژې په سوداګریزه سیمه کې شپږ مختلط (سوداګریز او استوګنیز) بلاکونه په نظر کې نیول شوي. هر بلاک به ۲۸ اپارتمانونه ولري چې ټولیز شمېر یې ۱۲۸ ته رسېږي. د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د سوداګریزې کځورې پر بنسټ د دغې پروژې لپاره د عامه او خصوصي ګډون موډل په نظر کې نیولی دی. د همدې موډل له مخې ۱۹۴۰۰ متره مربع ځمکه به د خصوصي سکټور په واک کې ورکول کېږي او خصوصي سکټور به پر هغه ۹ میلیونه ډالره پانګونه کوي.

دولت به پر عایداتو د مالیې وضعې او د قبالې د ورکړې فیس له لارې عاید وکړي.

**۹ - د کاماز تصدی پر ځمکې استوګنیز ښارګوټي**

د دې پروژې لپاره په قصبه سیمه کې پرته د کاماز تصدی پورې اړوند ۳۱۶،۸۳ جریبه دولتي ځمکه په نښه شوې ده.

یاد ښارګوټی په ټولیز ډول د ۱۵۷ بلاکونو په لرلو سره د سوداګریزو او عامه سیمو په لرلو سره طرحه شوی دی.

د دې پروژې لپاره د عامه او خصوصي ګډون موډل پلی کېږي چې له لارې به یې دولت یاده اندازه دولتي ځمکه د خصوصي سکټور په واک کې ورکوي او ډیزاین چارې به یې هم پر مخ وړي.

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت اټکل کوي چې خصوصي سکټور به پر دې پروژې ۲۱۹ میلیونه ډالره پانګونه وکړي او دولت به هم د عوایدو لس سلنه برخه ترلاسه کړي.

دغه ټولې طرحې ابتدایي دي او اعلان ته تر سپارل کېدو وروسته خصوصي سکټور سره په تفاهم کې د انکشافاتو په راوستو سره به د جلالتمآب جمهور رئیس په مشرۍ اقتصادي عالي شورا ته د تصویب لپاره وړاندې شي.

له دې ورهاخوا لکه څنګه چې د لندن، بروکسېل او جینوا په ناستو کې له اقتصادي پلوه پرځان بسیاینه د افغانستان دولت یو له اساسي ژمنو څخه و، له دولتي ځمکو او ملکیتونو څخه سمه ګټه اخېستل کولای شي موږ دغه هدف ته ورسوي.

د یادو شویو سوداګریزو کځورو لرلید او موخې:

- له دولتي ځمکو او ملکیتونو څخه سمه اقتصادي ګټه اخېستل؛
- دولت لپاره د پایداره دولتي سرچینو رامنځته کول؛
- د ښاریانو اړتیاوو سره سم هغوی ته د سمو ښاري خدمتونو ورکړه؛
- د کابل طراحی چهارچوب تطبیق؛
- د خصوصي سکټور د پانګې جذب؛
- او کار موندنه.

ښار جوړولو او ځمکو وزارت پر دې یوه دی چې د تحول په روانه لسیزه کې یو لوی مسئولیت یې ور تر غاړې دی او له همدې امله هڅه کوي چې د افغانستان اقتصادي ښېرازۍ لپاره خپل بنسټیز رول ولوبوي.

## د پانګې اچونې پورتنیو کځورو جزئیات په لاندې چارټ کې راوړل شوي دي:

| شمېره | سوداګریزه کځوره | مساحت (متر مربع) | د ځمکې ارزښت (ډالر) | پانګونه (ډالر) | د دولت عواید (ډالر) | کارمونده | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | مستقیم | غیرمستقیم | دایمي |
| ۱ | د مرمرو استوګنیز او سوداګریز مرکز | ۴،۹۰۰ | ۴،۹ میلیونه | ۳۰،۵ میلیونه | ۷،۶ میلیونه | ۱۴۵۰ | ۸۵۰ | ۶۰۰ |
| ۲ | استوګنیز او سوداګریز ښارګوټی | ۶۳۳،۶۷۹ | ۱۹ میلیونه | ۲۱۹،۵ میلیونه | ۲۸،۹ میلیونه | ۹۷۰۰ | ۵۸۰۰ | ۷۰۰ |
| ۳ | استوګنیز او سوداګریز بلاکونه | ۹،۴۰۰ | ۳،۸۸ میلیونه | ۹ میلیونه | ۶،۲۷ میلیونه | ۵۰۰ | ۳۰۰ | ۱۰۰ |
| ۴ | د برقي وسایلو مرکز | ۱۰۹،۳۰۴ | ۲۱،۸۶ میلیونه | ۹۰،۵۲ میلیونه | ۵۳،۳۵ میلیونه | ۴۱۰۰ | ۲۴۰۰ | ۷۰۰ |
| ۵ | د کور جوړوني پارک | ۷۳۰،۰۰۰ | ۲۱،۹ میلیونه | ۷۵ میلیونه | ۴۰ میلیونه | ۲۵۰۰ | ۱۵۰۰ | ۲۵۰۰ |
| ۶ | د محمود طرزي تحصیلي کمپلکس | ۲۰۰،۰۰۰ | ۶ میلیونه | ۶۰ میلیونه | ۱۰،۹ میلیونه | ۱۲۵۰ | ۷۵۰ | ۱۵۰۰ |
| ۷ | د موسی شفیق تحصیلي کمپلکس | ۹۶،۸۰۰ | ۲،۹ میلیونه | ۳۰ میلیونه | ۵،۳ میلیونه | ۸۵۰ | ۵۱۰ | ۱۰۰۰ |
| ۸ | د درمل جوړوني پارک | ۳۰۶،۰۰۰ | ۹،۱۸ میلیونه | ۷۵ میلیونه | ۱۶،۷ میلیونه | ۱۵۰۰ | ۹۰۰ | ۱۵۰۰ |
| ۹ | پنځم مکروریان | | | | | | | |
| | **مجموعه** | **۲،۰۹۰،۰۸۳** | **۸۹،۶۲** | **۵۸۹،۵۲** | **۱۶۹،۰۲** | **۲۱۸۵۰** | **۱۲۴۱۰** | **۸۶۰۰** |

# گام‌های استوار و کارهای بنیادی در جهت تامین منابع آبی پایتخت



نوید سعیدی، سخنگوی شرکت آبرسانی و کانالیزاسیون شهری

ادارۀ آبرسانی افغانستان در سال ۱۳۸۸ هجری خورشیدی از تصدی آبرسانی به شرکت آبرسانی و کانالیزاسیون شهری افغانستان به حیث یک شرکت سهامی دولتی تغییر شخصیت حقوقی داد. هدف از این تغییر مثبت در ساختار این نهاد، تامین مثمر و پایدار آب آشامیدنی صحی و نیز فراهم نمودن خدمات فاضلاب برای ساحات شهری و نیمه شهری در کشور می‌باشد.

شرکت آبرسانی و کانالیزاسیون شهری افغانستان از سال ۱۳۹۵ بدینسو خدمات و انکشاف متوازن را در خصوص تهیه آب صحی آشامیدنی در سطح کشور به خصوص شهرها انجام داده که می‌توان به تطبیق ۲۱ پروژۀ آبرسانی در ۱۵ شهر اشاره کرد.

یازده پروژه آبرسانی در شهرهای کابل، هرات، پل علم، شبرغان، فراه، چاریکار و ولسوالی اندخوی ولایت فاریاب با هزینۀ مجموعی بیش از ۳۹۱ میلیون افغانی تکمیل و ۳۱ هزار خانواده عملاً از خدمات آن بهره‌مند شده اند. به همین ترتیب، ده پروژه آبرسانی در شهرهای پل علم، مهترلام، گردیز، میمنه، خوست، ایبک، فراه، کابل و مزار شریف با هزینۀ مجموعی ۱،۹۴میلیارد افغانی و ۷۲ میلیون یورو تحت کار می‌باشد که پس از تطبیق آنها بیش از ۸۸ هزار خانواده از خدمات آن مستفید خواهند شد.

شرکت آبرسانی و کانالیزاسیون شهری افغانستان هم اکنون در شهر کابل به صورت مجموعی بیش از ۶۲ هزار خانواده را تحت پوشش خدمات خویش قرارداده که این خدمات را با استفاده از ۶۰ حلقه چاه در سه پروژه تولیدی، ۲ کاریز، ۱۹ ذخیرۀ سطحی و ارتفاعی و ۱۱۲۲ کیلومتر شبکۀ انتقالی و توزیعی؛ برای مشترکین خویش ارایه می‌نماید.
شهر کابل دارای سه اکوفر یا سفره آبی می‌باشد که در مناطق

افشار، علاءالدین و بگرامی موقعیت دارد. تغیرات اقلیمی، افزایش نفوس شهری، تغییر حجم بارنده‌گی، ساخت پیاده روها و سرک‌های غیرقابل نفوس در شهر کابل و همچنان استفادهٔ بی‌رویه و استخراج غیر تخنیکی آب‌های زیرزمینی؛ سبب پائین آمدن سطح آب‌های زیرزمینی در شهر کابل شده، طوری که طی سال‌های اخیر از ۱۰ حلقه چاه موجود در اکوفر افشار شهر کابل، هشت حلقهٔ آن غیر فعال گردیده و تنها دو حلقهٔ آن فعال و قابل استفاده می‌باشد.

به همین منوال اکوفر علاءالدین که آب مورد نیاز شمار زیادی از شهروندان کابل را تامین می‌نماید، از میان ۱۳ حلقه چاه موجود، تنها ۷ حلقهٔ آن فعال و متباقی آن غیرفعال گردیده است.

به علت افزایش جمعیت، پائین آمدن سطح آب و نیازمندی شدید شهروندان کابل به آب آشامیدنی صحی، از میان ۲۱ پروژه ذکرشده در فوق، شش پروژهٔ آبرسانی طی چهار سال اخیر در شهرک‌های خواجه رواش و امارات، امین آباد، ده مرادخان و قول آب‌چکان شهر کابل با هزینهٔ مجموعی ۱۲۴ میلیون افغانی به هدف تامین نیازمندی آب آشامیدنی بیش از ۱۳ هزار خانواده تکمیل گردیده است.

همچنان پروژهٔ آبرسانی شاه شهید با هزینهٔ ۸۴ میلیون افغانی تحت کار بوده که با تطبیق آن ۳۰۰۰ خانواده از خدمات آن بهره‌مند خواهند شد. برعلاوه، پروژهٔ آبرسانی میان مدت شهر کابل «MTP1»، از بزرگ‌ترین و معیاری‌ترین پروژه‌های آبرسانی برای شهر کابل شامل حفر و تجهیز ۷ حلقه چاه، اعمار پمپ استیشن، تمدید ۱۱,۹ کیلومتر پایپ انتقالی، اعمار ذخیرهٔ ۵۰۰۰ متر مکعبی و شبکهٔ توزیعی از قلعه فتح‌الله الی تهیه مسکن نیز با هزینهٔ بیش از ۷۲ میلیون یورو به حمایت مالی بانک انکشافی آلمان، اداره توسعهٔ بین‌المللی ایالات متحده امریکا و ادارهٔ انکشافی فرانسه در سه فاز تطبیق می‌گردد که با تکمیل و بهره‌برداری آن بیش از ۲۳ هزار خانواده در نواحی چهارم و دهم شهر کابل از خدمات آب آشامیدنی صحی بهره خواهند برد.

همچنان لازم به یادآوریست که پروژهٔ میان مدت شهر کابل در سه فاز که هر فاز آن شامل دو بخش بوده، فاز اول و بخش اول فاز دوم آن توسط شرکت ساختمانی ممتاز گروپ، بخش دوم فاز دوم آن توسط شرکت ساختمانی فیکا و فاز سوم آن توسط شرکت ساختمانی عسلسن تطبیق می‌گردد.

بخش نخست فاز اول این پروژه شامل تمدید پایپ‌های جمع کنندهٔ آب به طول ۹۶۱۳ متر برای هفت حلقه چاه می‌باشد، طی ۶۷۲ روز کاری تکمیل گردیده است. بخش دوم فاز اول این پروژه شامل تمدید پایپ انتقالی به طول ۱۱,۹ کیلومتر از پمپ استیشن لوگر الی ذخیره ۵۰۰۰ متر مکعبی بر تپهٔ وزیر محمد اکبرخان می‌باشد، طی ۹۳۵ روز کاری مطابق به قرارداد تکمیل شده است.

همچنان بخش نخست فاز دوم پروژهٔ متذکره که شامل اعمار پمپ استیشن در ساحه قلعه حسن خان واقع بگرامی، نصب تجهیزات و اعمار ساختمان بالای هفت حلقه چاه می‌باشد، تحت کار بوده و تا اکنون ۱۷ درصد پیشرفت کار داشته و الی تاریخ چهاردهم میزان سال ۱۳۹۹ خورشیدی تکمیل می‌گردد. بخش دوم فاز متذکره که اعمار ذخیره ۵۰۰۰ متر مکعبی بالای تپه وزیر محمد اکبرخان می‌باشد، تحت کار بوده و ۲۵ درصد پیشرفت کار داشته و الی تاریخ اول حوت سال ۱۳۹۹ خورشیدی تکمیل خواهد شد.
همچنان فاز سوم پروژه آبرسانی میان مدت شهر کابل شامل





ساختمان و تمدید شبکۀ توزیعی از قلعه فتح‌الله الی تهیه مسکن می‌باشد که جدیداً با شرکت ترکی به نام عسلسن قرارداد شده و قرار است طی مدت ۹۳۰ روز کاری تکمیل گردد.

به سبب محدودیت منابع آبی و جمعیت رو به رشد شهر کابل، شرکت آبرسانی و کانالیزاسیون شهری تلاش‌های جدی به خرچ می‌دهد تا نیازمندی فعلی شهروندان کابل به آب را با استفاده از آب‌های سطحی تامین نماید.

کار بند شاه و عروس که از سوی وزارت انرژی و آب ساخته می‌شود، رو به اتمام بوده و مقدار آبی که از بند متذکره برای آبرسانی شهری در نظر گرفته شده است، پنج میلیون متر مکعب می‌باشد که اکنون در مرحلۀ سروی قرار داشته و بر اساس سروی‌های ابتدایی انجام شده از سوی تیم تخنیکی شرکت آبرسانی و کانالیزاسیون شهری افغانستان، نیازمندی بیش از ۲۴ هزار خانواده در ساحۀ پشت کوتل خیرخانه شهر کابل را مرفوع می‌سازد.

همچنان پروژۀ آبرسانی بند شاه‌توت؛ یکی دیگر از پروژه‌های است که به هدف تامین آب آشامیدنی شهروندان کابل از سوی وزارت انرژی و آب و ریاست عمومی شرکت آبرسانی و کانالیزاسیون شهری افغانستان تطبیق خواهد شد. این پروژه، آب مورد نیاز نفوس ۲,۲ میلیونی نواحی ششم، هفتم و سیزدهم شهر کابل را تامین خواهد کرد.

دریای صیاد و بند قرغۀ شهر کابل از دیگر گزینه‌های بدیل جهت استفاده از آب‌های زیرزمینی و همچنان تامین کنندۀ آب آشامیدنی صحی شهروندان کابل می‌باشد. بر اساس محاسبات انجام شده، بند قرغه ۵,۷ میلیون مترمکعب آب دارد که می‌توان آب مورد نیاز باشنده‌های ناحیۀ پنجم شهر کابل را تامین نماید.

به همین ترتیب آب دریای صیاد در صورت انتقال به شهر کابل می‌تواند، قسمت‌های زیادی از شهر کابل را تحت پوشش قرار دهد. طرح ابتدایی چگونگی استفاده از این دو منبع با وزارت محترم انرژی و آب شریک شده که پس از تفاهم و توافق روی طرح متذکره، کار مشترک روی چگونگی استفاده از آن، از سوی شرکت آبرسانی و کانالیزاسیون شهری افغانستان و وزارت انرژی و آب آغاز خواهد شد.

شرکت آبرسانی و کانالیزاسیون شهری با انجام کارهای فوق، گام‌های اساسی و بنیادینی را در قسمت تامین آب آشامیدنی شهر و شهروندان کابل برداشته است. با این کارها، گرچه وضعیت آب‌های زیر زمینی روز تا روز در حال کاهش است، اما به یقین کامل می‌توان گفت که حتی برای نسل‌های بعدی در پایتخت نیز چاره اندیشی شده است.

# د ملي بيرغ تر ټولو ستر پارک د جوړېدو په حال کې



روح الله تلاش

د وزير محمد اکبرخان تپې پارک اوسمهال د کابل ښاريانو لپاره يوه ښه تفريحي سيمه ګڼل کېږي چې د ورځې په سلګونه تنه هلته د چکر او تفريح لپاره ورځي.

د وزير محمد اکبرخان تپې پارک د کابل ښار په لسمه ناحيه کې موقعيت لري چې د رغولو چارې يې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د هندوستان هېواد د يو مېليونه ډالرو په مرسته پرمخ وړي. دا ستره پروژه د جوماتونو او تاريخي ابداتو د ترميم ملي ادارې له لوري طرح او ډيزاين شوې ده.

د ملي بيرغ پارک پروژه په دوو برخو ويشل شوې چې لومړۍ برخه يې د مونومنتونو (د ملي بيرق او د شهيدانو دوه دايروي ځلي)، د پوليسو، د پارک ساتونکو، حفظ و مراقبت، تشنابونو او د کانتين ودانيو له جوړولو څخه عبارت دي. د پروژې دويمه برخه بيا د پلي لارو سنګ فرش، د پارکينګ جوړول او د پروژې شنه ساحه ده.

د وزير محمد اکبرخان تپې د ملي بيرغ پارک رغولو پروژې څارونکی وحيدالله اخندزاده وايي، د وزير محمد اکبرخان تپې د ملي بيرغ پارک د څلورخواو استنادي ديوال جوړولو چارې چې ٦٦٠ متره کېږي، د ملي بيرغ دايروي ځلي او د پارک پلي لارو کارونه بشپړ شوي دي.

ښاغلی وحيدالله اخندزاده زياتوي: «د پروژې چارې مخ په خلاصېدو دي، پنځه سلنه کارونه يې پاتې دي. د دې پروژې په رغنيزو چارو کې له محلي موادو استفاده شوې ده. په دې پروژه کې له محلي سمنټو، د خان ستيل له سيخ، د پروژې په تازيني



ځایونو کې د هرات د چشت تیږې او د اطاقونو په کف کې د میدان وردگ ولایت له تیږو استفاده شوې ده.»

د وزیر محمد اکبرخان تپې د ملي بیرغ او د شهیدانو دوه دایروي ځلي په اسلامي سبک او معمارۍ جوړ شوي دي چې د بیرغ دایروي ځلی ۱۲۵۶ متر مربع مساحت لري او د بیرق څلور خواو کې ۸۰ کمانه او ۸۱ ستنې کارول شوې دي. همداراز د شهیدانو دایروي مونومنت ځلی بیا ۹۵۰ مترمربع مساحت لري او په څلورو خواو کې یې ۶۱ کوچني کمانونه او دننه ۶ لوی کمانونه کارول شوې دي.

د وزیر محمد اکبرخان تپې د ملي بیرغ پارک رغولو پروژې څارونکي وحیدالله اخندزاده په وینا: «د پروژې کارونه د ډیزاین مطابق پرمخ تللي او په پروژه کې کارول شوي مواد د هر ډول طبیعي پیښو پر وړاندې مقاومت لري او ترڅنګ یې د پروژې د حفظ مراقبت لپاره هم تدابیر په پام کې لري چې مشخص کسان به یې ساتنه کوي.»

د دې پروژې په تطبیق سره نه یواځې خلکو ته د تفریح او چکر ښه زمینه برابره شوې بلکې د پروژې د تطبیق په جریان کې شاوخوا ۶۰ کسانو ته د کار زمینه هم برابره شوې ده.

وزیر محمد اکبرخان تپې ته له مزارشریف څخه په چکر راغلې زرمینه وايي: «زما لومړی وار دی چې دلته راغلې یم، واقعاً دا ځای یې ډېر ښه جوړ کړی دی، د کورنیو د تفریح لپاره مناسب ځای دی، موږ د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د دې اقدام ستاینه کوو.»

د کابل ښار له کارته نو سیمې څخه راغلی نوید الله وايي: «د وزیر محمد اکبر خان تپې د ملي بیرغ ځلی یې ډېر ښه جوړ کړی، د چکر او میلې لپاره خورا ښه ځای دی. له هغه وروسته چې د بیرغ شا وخوا سیمې جوړې شوې اوس د هرچا زړه کېږي چې دا ځای ووینې.»

د وزیر محمد اکبرخان تپې د ملي بیرغ پارک له جوړېدو سره نه یواځې په دې سیمه کې د ښاریانو ګڼه ګوڼه زیاته شوې او هغوی لپاره د چکر او تفریح لپاره پر ښې سیمې بدله شوې، بلکې هلته د هټیوالو بازار هم خورا ګرم شوی دی.

د وزیر محمد اکبرخان تپې د ملي بیرغ پارک یو تن میوه پلورنکی عبدالبصیر وايي: «په دې پارک کې د هر فصل مطابق میوه پلورم، له پخوا نه مې کار و بار خورا ډېر او ښه شوی، هغه ځکه چې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت دا پارک جوړ کړ او اوس د خلکو ګڼه ګوڼه دلته تر پخوا ډېره شوې ده.»

په دې پارک کې یو تن چای پلورونکی محمد عمر وايي: «د پارک له جوړېدو سره سم د خلکو شمېر هم زیات شو او زموږ کار و بار هم ښه شوی دی. زه باوري یم چې د پروژې د چارو له بشپړېدو سره به دا بیرو بار نور هم ډېر شي.»

د وزیر محمد اکبر خان تپې پارک ۱۵۰۰۰ مترمربع مساحت لري، د دې پروژې رغنیزې چارې د ۱۳۹۶کال د حوت مباشتې په ۱۶ مه نېټه د همت خبل ساختماني شرکت له خوا پیل او ټاکل شوې تر راتلونکې یوې مباشتې پورې په رسمي ډول ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

# د ټرانسپورټي زیربناوو جوړول، د کابل ښاروالۍ لومړیتوب؛



نرگس مومند حسن‌زی، د کابل ښاروالۍ ویانده

کابل ښار د شاوخوا شپږ مېلیونه نفوس په درلودلو سره په وروستۍ یوه نیمه لسیزه کې بې‌سارې پراختیا موندلې او لا هم د انکشاف په حال کې ده. د دغه ښار کوچنیوالي او ګڼ نفوس ته په کتو اړینه ده چې په بېلابېلو برخو کې د ښاریانو د ژوند ښه‌والي په موخه یو لړ اساسي چوپړتیاوې وړاندې شي.

د کابل ښاروالي د ښار او ښاریانو اوسنیو اړتیاوو ته په کتو د سړکونو جوړول خپله اصلي دنده بولي او په دې برخه کې خورا زیاتې لاس‌ته راوړنې هم لري. یادې ادارې د کابل ماسټر پلان او د هغه تشریحي پلان چې د کابل ښار طراحۍ پلان په نوم یادیږي، په وروستیو کلونو کې پر عمومي سړکونو سربېره یو شمېر زیات فرعي سړکونه یې هم رغولي او دا چاره به تر هغه مهاله دوام وکړي چې کابل کې هېڅ خام سړک پاتې نه شي.

کابل ښاروالۍ دې موخې ته د رسېدو لپاره له بېلابېلو لارو ګټه پورته کړې چې یوه یې په ۲۰۱۲ زېږدیز کال کې د افغانستان د بیا رغونې لپاره د وجهي صندوق «ARTF» په مالي مرسته او د نړیوال بانک په مدیریت د کابل ښاري ټرانسپورټ د لا ډېر اغېزناکه کېدو Kabul Urban Transport Efficiency Improvement Project لپاره د پروژې جوړول دي. د دغې پروژې اصلي موخه د کابل ښار پر سړکونو او د موټرو په وسیله تګ راتګ کې د آسانتیاوو رامنځته کول دي.

د دغې پروژې له لارې تر ۱۳۹۵ لمریز کاله پورې په ټولیزه توګه ۳۲ کیلومتره سړکونه رغول شوي چې له ډلې یې ۱۹,۳ کیلو متره په دویم او درېیم مکروریانو کې ۱,۹۲ کیلومتره له څلورم مکروریانو څخه تر کابل ننداري پورې، ۲,۵۲ کیلومتره په درېیمه کارته کې، ۳,۳۵ کیلومتره د خوشحال خان مېنې عمومي سړک، ۱,۸ کیلومتره په پروان دو کې، ۵,۷۵ کیلومتره په کارته نو او سیاه‌سنګ کې او پاتې ۳,۹ کیلومتره نور هم په نورو سیمو کې پاخه شوي دي.

د سړک جوړونې په برخه کې پر دغو پلې شویو پروژو سربېره کابل ښاروالي په دې وروستیو کې د کابل په دیارلسمه ناحیه کې د څه باندې یو مېلیارده افغانیو په مالي لګښت د پنځلسو پراختیایي پروژو پرانیسته هم وکړه. د ۲۸۵ مېلیونه افغانیو په مالي لګښت او د څه

باندې درې کیلومترو په اوږدوالي د کابل – کندهار لویې لارې ته د عبدالعلي مزاري جادې نښلول، د ۲۵۰ مېلیونه افغانیو په مالي لګښت کمپنی خوا ته د عرفاني څلوېښت متره سرک څه باندې دوه کیلومتره او د ۱۴۰ مېلیونه افغانیو په مالي لګښت د دشت برچې فرعي سرکونو څه باندې ۱۲ کیلومتره سرک د پرانیستل شویو پروژو څخه ستري هغه دي.

د یادونې ده چې د دغو پروژو له لارې دیارلسمې ناحیې پورې اړوند د دشت برچې سیمې فرعي کوڅې، لښتي او پلچکونه هم رغول کیږي. دا په وروستیو اتلسو کلونو کې هغه سترې پروژې دي چې د حکومت د مشرتابه د ځانګړې پاملرنې په پایله کې د دیارلسمې ناحیې پراختیا او د مېشتو ولسونو د اقتصادي او ټولنیزې ودې په پار پرانیستل کیږي.

د کابل ښاروالي د زیات شمېر سرکونو جوړولو ترڅنګ د پلې لارو د شبکو ښایسته کولو او د ټرافیکي ګڼې ګوڼې راکمولو په هدف د څلور لارو بیا رغونه هم پیل کړې ده. دغې خدماتي ادارې د ټرافیکي ګڼې ګوڼې راکمولو په پار د کابل ۳۳ څلور لارو تر مطالعې او سروې وروسته معلومه کړه چې په دې ګڼ‌مېشت ښار کې د ګڼې ګوڼې اصلي لاملونه د څلورلارو د دایرو لوی‌والی او هندسي شکلونه دي.

د یادې ستونزې هوارې په موخه د څلور لارو د هندسي شکلونو بدلولو لپاره د ۳۳۰ مېلیونه افغانیو په مالي لګښت د نویو طرحو د پلې کولو لړۍ پیل شوه. د یادو څلورلارو له ډلې د سرای شمالي، د هوایي ډګر په مسیر کې د شهید هنګرها، بره‌کې او ملک اصغر څلور لارو د بیا رغونې چارې پای ته رسیدلي او د یو شمېر نورو هغو عملي کارونه به سږ کال پای ته ورسیږي. د ویلو ده چې د دغو څلور لارو بیا رغونه د ټرافیکي ګڼې ګوڼې راکمولو سره خورا زیاته مرسته کړې ده.

د څلور لارو پر بیا رغونې سربېره د کابل ښاروالۍ تېر کال د کابل په شمال زون کې د اتو اصلي سرکونو، د کابل په سویل ختیځ کې د نساجي بګرامي سرک او د ده خدایداد سرک په جوړولو سره د ټرانسپورټ اساسي زېربناوې جوړې کړې دي چې له شک پرته پر نورو اړخونو یې هم خورا مثبتې اغیزې پرېښې دي.

د دغو ټولو ترڅنګ، د کابل ښاروالۍ د ښاري سکټور د یوې برخې په توګه د پلازمېنې لومړي سټراټیژیک پلان کې چې په ۱۳۹۵ کال کې تدوین شوی دی، ټرانسپورټي زېربناوو ته هم پاملرنه کړې ده، ځکه چې د ټرانسپورټي اسانتیاوو تر څنګ ټولې نورې زېربناوې د ښاریانو د ژوند کچې لوړېدو او د ښارونو په پراختیا او وده کې رغنده ونډه لوبوي.

د یاد سټراټیژیک پلان په درېیم رکن کې راغلي، کابل ښاروالي په دې برخه کې له بېلابېلو ستونزو لکه د بودجې کمښت، تېر وخت کې غیر معیاري پلان جوړونې، د پروژو ټیټ کیفیت، د پروژو ناسمه څارنه، د شتمنیو مدیریت لپاره د هر اړخیز سیستم نه شتون او داسې نورو ستونزو اوخډونو سره د سټراټیژیک پلان په جوړولو سره غواړي چې دغو ستونزو ته په بنسټیزه توګه د حل لارې چارې ومومي.

په دغه سټراټیژیک پلان کې ټولې پروژې تر راتلونکیو پنځو کلونو پورې په لنډمهاله، منځمهاله او اوږدمهاله برنامو په چوکاټ کې پلي کیږي. په یاد سټراټیژیک پلان کې وړاندوینه شوې چې تر راتلونکیو پنځو کلونو پورې به په ټول کابل کې ۷۰۰ کیلومتره سرک پوخ او بایسکل ځغلولو لپاره ۵۰ کیلومتره جلا او ځانګړې خطونه جوړیږي.

دا ډېر د خوشحالۍ ځای دی چې د کابل په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د بېلابېلو شته ستونزو او د وضعیت ښه‌والي لپاره یو داسې جامع او په هره مانا بشپړ سټراټیژیک پلان جوړیږي چې د ټولنیزې هوساینې، د کابل ښاریانو د ژوند لا ښه‌والي، د چاپېریال وضعیت ښه کېدو، د کارموندنې او پرمختګ زېرى ورکوي. په دې سره به کابل په هغه ښار بدل شي چې د ټرانسپورټ اساسي زېربنا لري.

د کابل ښاروالۍ مسوولین همدا اوس د یو شمېر زیاتو خامه سرکونو د تخنیکي اسنادو په برابرولو بوخت دي او د تدارکاتي پروسو په ختمېدو سره به یې عملي چارې هم پیل شي.

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او د کابل ښاروالۍ اوس د کابل ښار هر اړخیزې پراختیا ته کلکه ژمنتیا لري، خو دا هم باید روښانه وي چې د ښارونو د زېربناوو جوړول ډېر وخت ته اړتیا لري.



# اصول و قواعد کاربری زمین شهری

سید عثمان سادات، رئیس تخنیکی مسکن وزارت شهرسازی و اراضی



سازماندهی مکانی و فضایی فعالیت‌ها و عملکردهای شهری بر اساس نیازمندی‌های جوامع شهری صورت می‌گیرد. برنامه ریزی در عمل، هستهٔ اصلی برنامه ریزی شهری بوده و انواع استفاده از زمین را طبقه بندی و مکان‌یابی می‌کند.

باید اذعان داشت قبل از تهیهٔ پلان‌های شهری در شهرها، شهروندان از زمین خویش به اشکال مختلف استفاده‌های نامحدود می‌نمودند، در حالی که یکی از وظایف مهم طرح‌های شهری، مشخص نمودن نوع کاربری زمین، برای استفاده در زمینه‌های گوناگون مورد نیاز زنده‌گی شهری در چهارچوب قانونی در شهرها است. با این کار، نوع استفاده از آن مطابق ضرورت‌های اجتماعی، اقتصادی و فزیکی مشخص و تعیین می‌گردد. طرح کاربری زمین شهری علاوه بر تاثیرگذاری بر سرمایه‌گذاری و سیاست‌گذاری‌های عمومی و خصوصی نیز نقش دارد. ترتیب همچنان در میزان رشد شهری و کیفیت محیط فزیکی شهرها، نقش مهمی را ایفا می‌نماید.

زمین در برنامه‌ریزی شهری دو مفهوم متضاد دارد:

۱. زمین به عنوان یک منبع طبیعی که بهره‌مندی از آن برای سکونت و زنده‌گی و حفاظت آن برای نسل‌های آینده اهمیت حیاتی دارد.

۲. زمین به عنوان نوع دارایی که در چهارجوب مالکیت خصوصی، ثروت قلمداد می‌شود و برای کسب منفعت و درآمد شخصی قابل تملک و خرید و فروش است.

توازن بین فقرات فوق موضوع اقتصاد سیاسی بوده، اما موضوع توسعهٔ پایدار محسوب می‌شود. نوع استفاده از زمین شهری در قبال منافع عمومی و مالکیت خصوصی، محدودیت‌ها و مغایرت‌های اساسی دارد. بعضاً نوع کاربری زمین از نظر اثرات محیطی یا اجتماعی مضر تشخیص می‌گردد، در حالی که همان کاربری از نظر مزایای اقتصادی برای برخی شهروندان مفید به شمار می‌رود، مانند: زمین‌های زراعتی در حومهٔ شهرها، دیدگاه زیست محیطی و حفاظت طبیعی، برای شهر اهمیتی حیاتی داشته و در مقابل همین زمین به مجتمع مسکونی یا صنعتی برای مالکان آن و برخی شهروندان منفعت‌های اقتصادی دارد.





آگاهی از این تضاد منافع، یعنی تضاد منافع خصوصی در برابر مقتضیات عمومی و همچنین تضاد منافع اقتصادی در مقابل منابع طبیعی، ضرورت و اهمیت برنامه ریزی کاربری زمین را مشخص می‌سازد. همچنان این تضاد گاهی بین دو نوع کاربری مفید عمومی نیز بروز می‌کند. بنا براین، برنامه ریزی موثر کاربری زمین به ندرت یک تحقیق یا طراحی محض و یا یک عمل سیاسی محسوب می‌شود. اما بیشتر، ترکیبی از این سه با همدیگر به شمار می‌آید.

طرح کاربری زمین، بیانگر نمونه‌های استفاده از زمین در هر شهر می‌باشد. انواع گوناگون کاربری‌های شهری مانند: مسکونی، تجاری، صنعتی و استفاده‌های عمومی مانند: تعلیم، صحت، اداری و تفریحی را تعیین می‌کند. علاوه بر تعیین نوع استفاده از زمین، تعیین شدت و کثرت کاربری یا تراکم استفاده‌های متفاوت از زمین نیز حایز اهمیت است.

به صورت مجموع، هر طرح کاربری زمین در یک گزارش، یک نقشهٔ اصلی و چندین نقشهٔ توضیحی تشکیل شده است. گزارش شرح سیاست‌ها، معیارها، استندردها و محاسبات است و نقشه‌ها کاربرد فضایی یعنی مکانی این سیاست‌ها و تدابیر را مشخص می‌سازند. بر اساس طرح کاربری زمین؛ بخش‌های دیگر طرح جامع، یعنی شبکهٔ ارتباطی و ترانسپورت، طرح تاسیسات و تجهیزات زیربنایی، طرح تسهیلات و خدمات عمومی شهر و طرح توسعه و حفاظت از محیط زیست شکل می‌گیرند.

محتوای طرح‌های کاربری زمین، در اندازه و نوعیت شهرها و مجتمع‌های مسکونی متفاوت است. طرح کاربری زمین برای یک روستا یا یک شهر صنعتی و همچنین طرح کاربری زمین برای یک مجتمع مسکونی در حومهٔ شهر، با یک شهر بزرگ تفاوت بسیار زیاد دارد. محتوای طرح کاربری زمین نسبت به طول دورهٔ برنامه ریزی نیز تفاوت می‌کند. طرح کوتاه مدت، در اهداف، سیاست‌ها و اقدامات با یک طرح بلند مدت، محتوای متفاوتی با هم دارند.

پروسهٔ برنامه ریزی کاربری زمین، شبیه پروسه برنامه ریزی شهری است، زیرا هم از لحاظ نظری و هم از لحاظ عملی، هستهٔ مرکزی برنامه ریزی محسوب شده و در چهارچوب آن انجام می‌یابد.

پروسهٔ برنامه ریزی کاربری زمین از لحاظ عملی شامل شش مرحله می‌باشد:

۱. شناخت وضع موجود؛ به خصوص شناخت اهداف و سیاست‌های که کاربری‌های متفاوت مسکونی، تجاری، صنعتی و... مانند آنها در نظر گرفته شده باشد؛

۲. پیش‌بینی وضع آینده؛ مبنی بر آنکه به چه مساحت از توسعهٔ شهر در داخل مرزهای محدودهٔ موجود شهر متمرکز می‌گردد و به چه مساحت در خارج از محدودهٔ موجود و همچنین چه تغییراتی در نمونه‌های توسعه باید انجام گیرد و یا الزاماً در آینده رخ می‌دهد.

۳. بررسی مناطق و نواحی توسعه نیافته اطراف شهر و مشخص کردن عوامل موثر در انتخاب زمین برای توسعه آینده در شهر بر اساس ستندردهای پیشنهادی قابل قبول؛

۴. تحلیل و جمع بندی نتایج بررسی‌های فوق و ارایه طرح کاربری زمین شهری برای دست یافتن به وضع مطلوب و هماهنگ با وضع موجود و امکانات اجتماعی و اقتصادی جامعهٔ شهری؛

۵. تدوین طرح کاربری زمین؛

۶. تنظیم ابزارهای اجرایی طرح که مهم‌ترین آن ابزار اجرایی با معیارهای ذکر شده ذیل اند:

الف: ستندردهای ایجاد تسهیلات عمومی در سطوح مختلف شهری؛

ب: ستندردهای راهنمایی عمومی به قصد سرمایه‌گذاری در سکتورهای خانه سازی، صنعت، تجارت و خدمات؛

ج: و ستندردها به عنوان راهنمای تفکیک اراضی، منطقه بندی زمین شهری و اراضی اطراف برای احداث پارک‌ها، مراکز تفریحی، ورزشی و فرهنگی.

این ستندردها همراه با مقررات دیگر، قواعد مکان‌یابی کاربری‌ها، تفکیک زمین، تراکم ساختمانی و فعالیت‌ها را تعیین می‌کنند. چنین طرح راهنما و مرجع همه دست‌اندرکاران توسعه و آبادانی شهری، و سرمایه‌گذاران و شهروندان است که برای آگاهی از شیوه نامه‌ها و دستورالعمل‌ها به آن رجوع می‌کنند.

طرح کاربری زمین مابین طرح جامع که جنبهٔ سیاستی دارد و طرح زونینگ که جنبهٔ قانونی دارد، قرار گرفته و بیشتر دارای جنبهٔ فنی است. امروز بسیاری از شهرسازان معتقدند که این سه باید در چهارچوب یک طرح واحد قرار گیرند.

# د هوا ککړتیا د راکمولو لپاره بل څپرکی پرانیستل شو



محمد عزیز پردېس
د چاپېریال ساتنې ملي اداره

د چاپېریال ساتنې ملي اداره د یوه دولتي ارگان په توگه د ژوند چاپېریال لا ښهوالي، طبیعي سرچینو او وحشي ژوو د ساتنې او په چاپېریال کې د نورو برخو لا ښه کېدو په موخه د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې په کار بوخته ده، ځو په هېواد کې شته ستونزې پای ته ورسوي.

د چاپېریال ساتنې ملي اداره د لومړي ځل لپاره په ۱۳۸۳کال کې د ژوند چاپېریال خپلواک ریاست په نوم، د بربښنا او اوبو وزارت تر چتر لاندې او وروسته په ۱۳۸۴ کال کې د چاپېریال ساتنې ملي ادارې په نوم و نومول شوه. په ۱۳۸۵ کال کې د اساسي قانون د پنځه‌لسمې مادې حکم سره سم د عمومي ریاست، درې معینیتونو، یوولس ریاستونو او په هر ولایت کې د یو ریاست په لرلو عمومي ریاست ته ارتقا وکړه.

د چاپېریال ساتنې ملي اداره د یوې پالیسي سازې ادارې په توگه لاندې درې اساسي موخې تعقیبوي:

۱ – د انساني، حیواني او نباتي روغتیا ساتنه؛

۲ – د ژوند چاپېریال اړوند د اوسنیو او راتلونکیو نسلونو د شتمنیو ساتنه؛

۳ – او د طبیعي او کلتوري اثارو ساتنه.

د چاپېریال ساتنې ملي ادارې په خپله کاري ساحه کې د نورو زیاتو فعالیتونو ترڅنگ په ځانگړې توگه د هوا پاکوالی په برخه کې د پام وړ کارونه کړي دي. د ترسره شویو فعالیتونو له ډلې یو هغه په وروستیو کې د هوا ککړتیا راکمولو او مخنیوي په پار پنځه کلن پلان دی چې د روان کال د زمري د میاشتې په لسمه نېټه د چاپېریال ساتنې ملي ادارې عمومي رئیس محترم شاه زمان میوندي او د یو شمېر همکارو ادارو استازیو په گډون د یوې خبري ناستې له لارې هېوادوالو سره شریک شو.

یاد پنځه کلن پلان د هوا ککړتیا د مخنیوي عالي کمیسیون له خوا هم تصویب شوی دی. د چاپېریال ساتنې ملي ادارې عمومي رئیس

